# په آیرلنډ کې د نړیوال خوندیتوب طرزالعمل لپاره لارښود




UNHCR
The UN Refugee Agency

www.unhcr.ie

# زمونږ په هکله

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ ادارې ته ماموریت ورکړل شوی څو د هغو خلکو لپاره چې د خپلو هېوادونو په پرېښودلو اړ شوي، په نورو هېوادونو کې خوندیتوب برابر کړي. په آیرلنډ کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ اداره کار کوي څو د لاربښوونو برابرولو، د چارواکو لپاره د روزنې او ملاتړ او په قوانینو، تګلارو او طرزالعملونو کې د ښو نړیوالو معیارونو هڅونې له لارو، په آیرلنډ کې د کډوالو، پناغوښتونکو او بې هېواده خلکو حقونه او سلامتیا خوندي کړي. په ځینو حالتونو کې مونږ د انفرادي کډوالو، پناغوښتونکو یا بې هېواده خلکو لپاره مرسته، ملاتړ یا مشوره هم برابرو.

د 2016 په دسمبر کې، **د 2015 نړیوال خوندیتوب قانون** په نوم یو نوی قانون په آیرلنډ کې نافذ شو. دغه قانون په آیرلنډ کې د نړیوال خوندیتوب عریضو د ارزونې لپاره د خوندیتوب یو نوی طرزالعمل برابروي. د معلوماتو دغه کتابچه د نوي قانون او د پناغوښتنې نوې پروسې په اساس د مهمو بدلونونو په هکله عمومي معلومات وړاندې کوي، او موخه یې دا ده څو د هغو کسانو لپاره چې په آیرلنډ کې د نړیوال خوندیتوب په لټه کې دي او هغه کسان چې د پناغوښتنې عارضینو سره کار کوي مرسته وکړي. [1]

# د پرېکړې نیونې ادارې

دا هغه ادارې دي چې ستاسې د نړیوال خوندیتوب عریضې ارزونه ترسره کوي.

### د نړیوال خوندیتوب دفتر (International Protection Office, IPO)

د نړیوال خوندیتوب دفتر، د آیرلنډ د تابعیت او کډوالۍ خدماتو(INIS ,Irish Naturalisation and Immigration Service) په چوکاټ کې یوه اداره ده، او د نړیوال خوندیتوب د عریضو ارزونې مسؤلیت لري. د نړیوال خوندیتوب دفترد هغو چارواکو خپلواکي چې د نړیوال خوندیتوب په هکله پرېکړه کوي، د آیرلنډ د قوانینو په اساس خوندي ده. په آیرلنډ کې د پناغوښتنې لپاره، له بندرونو پرته، تاسې باید د نړیوال خوندیتوب دفتر کې پخپله عریضه وړاندې کړئ. دغه اداره د 2017 په پیل کې د کډوالو عریضو د کمیشنر ادارې ځای نیولی. د نورو معلوماتو لپاره دغه ویبپاڼه وګورئ: www.ipo.gov.ie

### د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه (International Protection Appeals Tribunal, IPAT)

د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه یوه خپلواکه محکمه ده. دغه محکمه د هغو کسانو د استیناف غوښتنې ارزوي چې د نړیوال خوندیتوب دفتر سپارښتنه کړې چې باید نړیوال خوندیتوب (د کډوالۍ دریځ یا فرعي خوندیتوب) لاسته رانه‌وړي. دغې محکمې د 2017 په پیل کې د کډوالو د استیناف محکمې (RAT) ځای نیولی. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ دغه ویبپاڼه وګورئ: www.protectionappeals.ie

[1] **مسؤلیت نه منل:** دغه کتابچه یوازې د معلوماتو لپاره ده، د کومې حقوقي مشورې بڼه نلري او پهدې لاربښود کې بدلون راتلای شي. د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د نړیوال خوندیتوب دفتر معلوماتي کتابچه پدغه ویبپاڼه کې وګورئ www.ipo.gov.ie

## 1 یو واحد طرزالعمل

د 2015 نړیوال خوندیتوب قانون لخوا ترټولو مهم وړاندي شوی بدلون، د نړیوال خوندیتوب عریضو ارزوني لپاره یو نوی واحد طرزالعمل دی. دا پدې مانا ده چي د کډوالی دریځ، فرعي خوندیتوب او د پاتي کېدو اجازه به ټول په عین اجراتو کي وارزول شي. دا به د پناغوښتني په طرزالعمل کي د ډیر ځند مخنیوی وکړي.

| د کډوالی وضعیت | فرعي خوندیتوب | د پاتي کېدو اجازه |
|---|---|---|

**واحد طرزالعمل**

## 2 د عریضې اجرات

دغه چارت په آیرلنډ کي د عریضي د نوي اجراتو په هکله عمومي معلومات وړاندی کوي او د هر ګام لپاره باید له لاندي متن سره یوځای ولوستل شي. په تفصیل سره د نورو معلوماتو چارت د دغه لارښود د شا په پاڼه کي شتون لري.

- **1 ګام**: د نړیوال خوندیتوب اداري ته عریضه
- **2 ګام**: لومړنی مرکه
- **3 ګام**: د پوښتنو لست
- **4 ګام**: شخصي مرکه
- **5 ګام**: پریکړه
- که بریالي یاست دا لاندي به لاسته رواړئ
  - د کډوالی یاست، فرعي خوندیتوب یاد پاتي کېدواجازه
- **6 ګام**: که بریالي نه یاست د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته د استیناف غوښتنه وړاندی کړئ
- **7 ګام**: که استیناف غوښتنه ناکامه شي د پاتي کېدواجازې پریکړې بیاکتنه وکړئ

## 1 ګام نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندي کول

کېدای شي تاسي د هېواد په سرحد یا که تاسي له وړاندي په هېواد کي یاست د نړیوال خوندیتوب دفتر کي د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ. کېدای شي تاسي د خپل ځان په استازیتوب او/یا د خپلو هغو اړوندو کوچنیانو چي له 18 کلونو څخه کم عمر لري په استازیتوب د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ. که ستاسي کوچنیان په هېواد کي زېږېدلي وي او یا که هغه وخت هېواد ته راشي چي تاسي د خوندیتوب طرزالعمل په ترڅ کي یاست، که هغوی د آیرلنډ اتباع نه وي، هغوی به په اتومات ډول ستاسي په غوښتنه کي راشي. د هغه عارض په توګه چي کوچنیان لري، دا ډېره مهمه ده چي تاسي د خپلو کوچنیانو او خپل ځان په اړه د خوندیتوب هره اندېښنه د طرزالعمل په ترڅ کي راپورته کړئ.

**توسله (Tusla)، د کوچني او کورنۍ اداره، د هغو کوچنیانو لپاره چي یوازي دي او د هغوی تر پاملرنې لاندې دي**، کېدای شي د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړي.

## 2 ګام لومړنۍ مرکه

که تاسي د هېواد په سرحدونو لکه په هوایي ډګر یا سمندري بندر کي د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ، کېدای شي د کډوالۍ کارکوونکی او/یا د نړیوال خوندیتوب دفتر کارکوونکی درسره مرکه وکړي. دا مرکه به د لومړنیو معلوماتو ټولولو لپاره لکه ستاسي د هویت، ستاسي د اصلي هېواد، آیرلنډ ته د سفر کولو د لارو او د نړیوال خوندیتوب غوښتني لپاره د عمومي حالتونو د معلوماتو راټولولو موخي لپاره وي. که دا لومړنۍ مرکه د هېواد په سرحدونو کي ترسره شوې نه وي، بیا به دا مرکه د نړیوال خوندیتوب دفتر کي ترسره شي.

لومړنۍ مرکه به دا ارزونه هم وکړي چي آیا ستاسي عریضه د منلو وړ ده. دا پدې مانا ده چي د نړیوال خوندیتوب دفتر یو کارکوونکی به پرېکړه وکړي چي آیا تاسي کولای شئ په آیرلنډ کي د پناغوښتني لپاره عریضه وړاندي کړئ. کېدای شي تاسي دا کار ونه شئ کولای که د اروپایي ټولني غړو په یو بل هېواد کي تاسي ته د کډوالۍ دریځ یا فرعي خوندیتوب درکړل شوی وي، یا که تاسي ته له اروپایي ټولني دباندې په یو بل هېواد کي د کډوالۍ دریځ وړاندي شوی وي او تاسي ته به اجازه درکړي شو هلته بېرته ستانه شئ چېرته چي به تاسي خوندي یاست.

**څه به وشي که معلومه شي چي زما عریضه د منلو وړ نده؟**
تاسي به د نړیوال خوندیتوب دفترلخوا یوه منطقي پرېکړه لاسته راوړئ، پدغه پرېکړه کي به د نړیوال خوندیتوب د دراستیناف محکمي ته د استیناف غوښتني وړاندي کولو لپاره د وخت محدودیت شامل وي. د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمي ته به استیناف غوښتنه یوازي په لیکلي بڼه وي.

که ستاسي لومړنۍ مرکه د هېواد په سرحدونو کي ترسره شوې وي، بیا به له تاسي غوښتنه وشي څو تاسي په مستقیمه توګه د نړیوال خوندیتوب دفتر ته ورشئ. د نړیوال خوندیتوب دفتر کي به ستاسي او په تاسي پورې د اړوندو کسانو د ګوتو نښې او عکسونه واخیستل شي. دغه معلومات ستاسي د هویت تثبیتولو موخي لپاره اخیستل کیږي او دا چي آیا د دبلن مقرره ستاسي په قضیي کي د اجرا وړ ده.

بیا به تاسي ته د لنډمهاله استوګن تصدیق درکړ شي، پدې تصدیق کي به ستاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره په آیرلنډ کي د اوسیدلو اجازې ته اشاره شوې. دا یوه رسمي تذکره نده، خو تاسي یې باید هروخت له ځان سره وساتئ. کېدای شي دغه تصدیق د خوندیتوب طرزالعمل په ترڅ کي بېرته نوی شي.

## 3 ګام د پوښتنو لست

د نړیوال خوندیتوب اداري یو کارکوونکی به د واحد طرزالعمل او د پوښتنو لست په اړه د معلوماتو یوه کتابچه درکړي څو یې ډکه کړئ او بیرته یې د نړیوال خوندیتوب دفتر ته راوړئ. دا ډیره مهمه ده څو تاسي د پوښتنو لست له ډکولو وړاندې د معلوماتو کتابچه ولولئ او حقوقي مرسته لاسته راوړئ.

دا ډیره مهمه ده څو د پوښتنو لست په بشپړه توګه ډک کړئ او د خپل نړیوال خوندیتوب د اړتیاو په اړه صحیح معلومات وړاندې کړئ. که تاسي د پوښتنو لست په برخو نه پوهیږئ، د مرستي لپاره له خپل وکیل څخه پوښتنه وکړئ.

که کېدای شي، د پوښتنو لست باید د 20 کاري ورځو یاني د 4 اونیو په ترڅ کې بیرته راوړل شي. دا به د نړیوال خوندیتوب دفتر سره مرسته وکړي څو عریضې په ممکنه توګه په چټکی سره اجرا کړي. که تاسي د پوښتنو لست ډکولو یا له حقوقي سلاکار سره د مشورې لپاره اضافي وخت ته اړتیا لرئ، د نړیوال خوندیتوب اداري عارضینو ته د نرمښت برابرولو ډاډ ورکړی دی. که دا مسئله په تاسي پوري اړوند وي، له خپل حقوقي وکیل سره خبرې وکړئ یا په مستقیمه توګه د نړیوال خوندیتوب دفتر سره اړیکه ونیسئ او اطلاع ورکړئ (د اړیکو معلوماتو لپاره 21 پاڼه وګورئ).

دا مهمه ده چې هغه ملاتړ کوونکي اسناد هم وړاندې کړئ چې تاسي فکر کوئ کېدای شي ستاسي په غوښتنلیک پوري اړوند وي. پدغو کې هغه معلومات هم شامل دي چې د پاتي کېدو اجازې لپاره ستاسي عریضې پوري اړوند دي.

## 4 ګام شخصي مرکه

د نړیوال خوندیتوب دفتر به ستاسي د مرکې د وخت په اړه یو لیک درولیږي. که اړتیا وي، کېدای شي یو ژباړونکی هم راوغوښتل شي. که تاسي له هغه وخته چې د پوښتنو لست مو وړاندې کړئ اضافي معلومات او/یا شواهد لرئ، هڅه وکړئ څو دغه معلومات لږترلږه د مرکې تر وخت یوه اونۍ مخکې وړاندې کړئ.
مرکه تاسي ته دا موقعه برابروي چې ټول هغه دلایل وړاندې کړئ چې ولې تاسي په آیرلنډ کې د خوندیتوب په لټه کې یاست. د مرکې په ورځ مهرباني وکړئ دا معلومه کړئ چې آیا تاسي او ژباړونکی د یوبل په خبرو پوهیږئ.

که تاسي د ژباړونکي د خبرو پوهېدلو سره ستونزه لرئ، دغه مسئله د نړیوال خوندیتوب دفتر کارکوونکي سره راپورته کړئ. د نړیوال خوندیتوب دفتر کارکوونکي به ستاسي لخوا د پوښتنو ډک شوی لست له وړاندې لوستی وي او ستاسي له قضیې سره به آشنا وي. که تاسي د مرکه کوونکي نړیوال خوندیتوب دفتر کارکوونکي د پوښتنو له پوهېدلو سره کومه ستونزه لرئ، مهرباني وکړئ ورته ووایاست چې پوښتنه تکرار کړي. مهرباني وکړئ په یاد وساتئ چې تاسي دا مکلفیت لرئ چې د پاتي کېدواجازې عریضې د هر اړوند حالت بدلون په اړه وزیر ته نوي معلومات ورکړئ، یاني تر هغه وخته چې د وزیر لخوا د پاته کېدلو اجازې پریکړې راپور چمتو کیږي.

که تاسي غواړئ د خپلې عریضې د پاتي کېدو اجازې د برخې په اړه نوي اضافي معلومات وړاندې کړئ، دا ستاسي لپاره ښه موقعه ده. کېدای شي تاسي یا ستاسي حقوقي وکیل ستاسي د مرکې تروخته یا د مرکې په ورځ، ستاسي د عریضې په اړه په لیکلي بڼه کوم څه وړاندې کړي.


د مرکه کوونکي نړیوال خوندیتوب دفتر کارکوونکي لخوا به د مرکې لیکل شوی سند وساتل شي. د مرکې په ترڅ کې په ځانګړو دمو کې، مرکه کوونکی به تاسي ودروي او له تاسي به وغواړي څو هغه څه چې تاسي ویلي دي د یاداښتونو بیا کتنه وکړئ او که اړتیا وي توضیح ورکړئ یا یې تصحیح کړئ. بیا به له تاسي غوښتنه وشي څو د مرکې سند د سموالي تصدیق لپاره دغه سند لاسلیک کړئ. که د مرکې په سند کې کوم څه وي چې سم ندي، یا که پدغه سند کې کوم څه پاته وي، مرکه کوونکي کارکوونکي ته په مستقیمه توګه اطلاع ورکړئ څو تاسي وکولای شي وضاحت ورکړئ.

که څه هم دا یو عادي کار ندی، خو کېدای شي ستاسي حقوقي وکیل که وغواړي په مرکه کې برخه واخلي. هغه کولای شي تر مرکې وړاندې هم ستاسي په استازیتوب خبرې وکړي. که تاسي یوازې کوچنی یاست ستاسي ولي یا له توسله څخه یو استازی باید په مرکه کې برخه واخلي. مرکه کېدای شي په ځانګړو حالتونو کې وځنډول شي، د بیلګې په توګه، که تاسي له ناروغی څخه رنځ وړئ. که تاسي په ټاکل شوې نېټه نشئ کولای مرکې ته حاضر شئ، دا ډېره مهمه ده چې تاسي ډېر ژر د نړیوال خوندیتوب دفتر ته اطلاع ورکړئ. کېدای شي په محدودو حالتونو کې مرکه وځنډول شي. [2]

## 5 ګام د نړیوال خوندیتوب دفتر پرېکړه

له مرکې وروسته به د نړیوال خوندیتوب دفتر ستاسي د قضیې په هکله ټول اړوند معلومات په پام کې ونیسي. پدغو معلوماتو کې د مرکې سند او د پوښتنو ډک شوی لست شامل دی. که یوه سپارښتنه د شپږو میاشتو په ترڅ کې وړاندي نشي، تاسي کولای شئ د نړیوال خوندیتوب دفتر څخه د پرېکړې لاسته راوړلو اټکلي وخت په هکله معلومات لاسته راوړئ.

د یوې سپارښتنې لپاره ممکنه توپیر لرونکي پایلې په لاندې جدول کې راغلي. په سپارښتنه کې به د دلیلونو راپور شامل وي چې څرنګه ستاسي د انفرادي عریضې په هکله سپارښتنه ترسره شوه. په سپارښتنه کې ځینې موندنې کېدای شي د هرې استیناف غوښتنې د وخت په محدودېت باندې اغیز وکړي او دا چې آیا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې په وړاندې د شفاهي استماعیې اجازه شته او که نشته.




[2] د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو نورو معلوماتو لپاره د نړیوال خوندیتوب دفتر معلوماتي کتابچې 4.5.12 برخه وګورئ.

تاسي او/یا ستاسيحقوقي وکیل به سپارښتنه د ثبت شوي پوستي له لارې لاسته راوړئ. که د نړیوال خوندیتوب دفترسپارښتنه وکړي چې تاسي ته باید د کډوالی دریځکړل شي، د عدلیې او مساواتو وزیر (وزیر) به تاسي ته د څو اونیو په ترڅ کې د کډوالي اطلاعیه درکړي. په ځانګړو حالتونو کې که وګڼل شي چې عارض یو امنیتي خطر دی، کېدای شي وزیر د نړیوال خوندیتوب دفتر د سپارښتنې له تعقیبولو څخه ډډه وکړي.

که ستاسي د کډوالی دریځ د شي مګر تاسي ته فرعي خوندیتوب درکړل شي، تاسي بیاهم دا حق لرئ چې د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې څخه د استیناف غوښتنه وکړئ. که ستاسي د کډوالی موقعیتاو فرعي خوندیتوب دریځاړه رد شي، وزیر به دا پرېکړه وکړي چې تاسي ته د "پاتې کېدواجازه" درکړي او که یې درنکړي. که ستاسي د پاتې کېدو د اجازې پرېکړه مثبته یا منفي وي، تاسي به بیا هم دا حق ولرئ چې د دغې پرېکړې په هکله د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې څخه د استیناف غوښتنه وکړئ.

که ستاسي د کډوالی او/یا د فرعي خوندیتوب دریځد شي، تاسي به د مرکې یوه نسخه او د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته ستاسي د استیناف غوښتنې حق په هکله یو لیک لاسته راوړئ. تاسي به هغه معلومات هم لاسته راوړئ چې څرنګه طرزالعمل تعقیب کړئ او د استیناف غوښتنې یوه فورمه به هم لاسته راوړئ چې څرنګه د استیناف غوښتنه وکړئ. ستاسي د عریضې د ممکنه پایلو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د معلوماتو لاربښود د شا پاڼه وګورئ.

## **6 ګام** د نړیوال خوندیتوب استیناف محکمې ته د استیناف غوښتنه

کېدای شي تاسي د نړیوال خوندیتوب دفتر د سپارښتنې چې تاسي د کډوالی دریځ یا د فرعي خوندیتوب مستحق نیاست په هکله د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته د استیناف غوښتنه وړاندی کړئ. د پاتې کېدود اجازې د ردیدلو په هکله د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې څخه د استیناف غوښتنه نشي کېدلای.

د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته د استیناف غوښتنې لپاره د استیناف غوښتنې یوه فورمه باید د هغه وخت په محدودیت کې ډکه شي چې د نړیوال خوندیتوب دفتر به یې تاسي ته د سپارښتنې په یوه لیک کې درولیږي. کېدای شي تاسي د استیناف غوښتنې لپاره د شفاهي استماعیې غوښتنه وکړئ، خو دا ستاسي د نړیوال خوندیتوب دفتر د سپارښتنې لیک په موندنو پورې اړه لري.

کله چې ستاسي د استیناف غوښتنې استماعیې وخت وټاکل شي، تاسي ته به اطلاع درکړ شي. د استماعیې په ورځ، که ژباړونکي (ترجمان) ته اړتیا وي، مهرباني وکړئ ځان پوه کړئ چې آیا تاسي او ژباړونکی د یو بل په خبرو پوهیږئ. که تاسي د ژباړونکي د خبرو له پوهېدلو سره ستونزه لرئ، دغه موضوع د محکمې کارکوونکي ته وواياست. د شفاهي استماعیې په وخت کې به د نړیوال خوندیتوب دفتر یو کارکوونکی او تاسي، ستاسي حقوقي وکیل یا مدافع وکیل او د محکمې کارکوونکی به شتون ولري. د محکمې کارکوونکی کېدای شي له یوه شاهد څخه هم غوښتنه وکړي څو په استماعیه کې برخه واخلي او ستاسي د خوندیتوب عریضې د ځینو برخو په هکله د محکمې په وړاندې شواهد ورکړي.

که د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه د نړیوال خوندیتوب دفتر لخوا منفي سپارښتنه رد کړي، وزیر به تاسي ته د کډوالی دریځ د فرعي خوندیتوب په هکله د خوندیتوب اړونده اطلاعیه صادره کړي.

**څه به وشي که زه د نړیوال خوندیتوب دفتر څخه د پاتې کېدواجازه لاسته راوړم او د سپارښتنې په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړم څو د کډوالی دریځ یا فرعي خوندیتوب ونه منم؟**

که تاسي ته د پاتې کېدواجازه درکړ شي، تاسي بیا هم کولای شئ د نړیوال خوندیتوب دفتر د سپارښتنې په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ او نړیوال خوندیتوب ونه منئ. تاسي داهم کولای شئ چې د کډوالو د ثبت په خپل سیمه اییز دفتر کې خپله د پاتې کېدو اجازه ثبت کړئ.

# **7 ګام** د پاتې کېدود اجازې بیاکتنه

که وزیر تاسي ته د پاتې کېدواجازه درکړې نه وي، او د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته ستاسي استیناف غوښتنه بریالی نه وي، او که تاسي د لومړنی پرېکړې له اخېستلو څخه نوي معلومات وړاندي کړي وي، وزیر به بیا د پاتې کېدود اجازې نه ورکولو پرېکړې بیاکتنه وکړي. تاسي به د پاتې کېدو د اجازې بیا کتني فورمه د ډکولو لپاره لاسته راوړئ. تاسي به یوازې **5 کاري ورځي** ولرئ چې نوي معلومات وړاندي کړئ، څکه نو ډاډمن اوسئ چې **هغه** ټول اسنادونه چې کېدای شي ستاسي پکارشي له وړاندي لاسته راوړئ. که د وزیر د پاته کېدلو د لومړنی پرېکړې او ستاسي د استیناف غوښتني په هکله د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې پرېکړې ترمنځ ستاسي حالت بدلون کړی وي او که تاسي د پاتې کېدود اجازې بیاکتني لپاره اړوند نوي معلومات لرئ، تاسي باید رترره وزیر ته اطلاع ورکړئ.

که دا کار ونکړئ پایله به یې په اجباري توګه د پنا وړونکو ستنول ممانعت وي، پدغه حالت کې کېدای شي وزیرد پاتې کېدواجازه وړاندې کړي (د نورو معلوماتو لپاره، **7 تکراري پوښتني وګورئ**).

# زما حقونه څه دي؟

**ستاسي په حقونو کې دا شامل دي:**

که تاسي د نړیوال خوندیتوب لپاره یو عارض یاست ستاسي په حقونو کې دغه لاندي شامل دي:

- تاسي اجازه لرئ چې د نړیوال خوندیتوب دفتر او د نړیوال خوندیتوب د درخواستونو محکمې لخوا د هرې استیناف غوښتنې ارزونې لپاره تاسي آیرلنډ ته راشئ او هلته پاته شئ
- تاسي حق لرئ چې یو حقوقي وکیل ستاسي استازیتوب وکړئ او تاسي حقوقي مشوره لاسته راوړئ
- د واحد طرزالعمل په ترڅ کې له تاسي سره په احترام، عزت او انصاف سره د چلند حق
- ستاسي د خوندیتوب عریضې په هکله وزیر ته په تحریري توګه د اسنادونو وړاندی کولو حق
- که اړتیا وي د اړیکو ډاډ لپاره له ژباړونکي څخه د کار اخیستنې حق
- د محرمیت حق
- د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسي د عریضې اړوند د هرې مرکې، پرېکړې یا اړوندو اطلاعیو څخه په لیکلې بڼه د خبرولو حق.
- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) سره د اړیکو حق

حقوقي مرسته د **حقوقي مرستې له ادارې (LAB)** څخه لاسته راوړی شئ. هغوی به خپل یو حقوقي وکیل یا به یو شخصي وکیل چې له هغوی سره کار کوي تاسي ته درکړي. د حقوقي مرستې اداره ژمنه ده چې د نړیوال خوندیتوب ټولو مشتریانو ته د هغوی د عریضې د ټولو برخو په هکله له وړاندي حقوقي مشوره وړاندي کړي. پدغو مشورو کې کېدای شي وړاندې تردې چې تاسي د پوښتنو لست ډک کړئ معلوماتي مشوره او تر مرکې وړاندي مشوره شامله وي، تر مرکې وړاندې مشوره کې به ستاسي د پوښتنو د ډک شوي لست په اساس تاسي ته حقوقي مشوره درکړ شي. **د آیرلنډ د کډوالو خپلواکي شورا حقوقي مرکز** هم د وړتیا په صورت کې کولای شي له وړاندې مشوره برابره کړي. که تاسي پیسي لرئ تاسي کولای شئ د شخصي حقوقي وکیل د خدماتو په لټه کې هم شئ.

دا ستاسي د عریضې د هر انفرادي وضعیت پورې اړه لري، کېدای شي تاسي د ځانګړې جنسیت ژباړونکي ته ترجیح ورکړئ چې ستاسي د مرکې یا د استیناف استماعیې په ترڅ کې شتون ولري. دا مهمه ده څو تاسي دغه موضوع رتررہ د نړیوال خوندیتوب دفتر کې او/یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې کې راپورته کړئ، چې هغوی وکولای شي دغې غوښتنې ته ځای ورکړي.

ستاسي د عریضې په هکله هغه ټول معلومات چې ستاسي لخوا وړاندې کیږي، په ډېر ډاډ سره به ورسره چلند وشي او ستاسي د اصلي هېواد/استوګنې هېواد له چارواکو یا په آیرلنډ کې ستاسي د هېواد له استازي سره به شریک نشي.

# زما مکلفیتونه څه دي؟

## ستاسي په مکلفیتونو کې دا شامل دي:

- د آیرلنډ له قوانینو څخه د اطاعت مکلفیت

دا پدې مانا چې تاسي باید د آیرلنډ د قوانینو او مقرراتو احترام وکړئ.

- د همکارۍ کولو مکلفیت

د واحد طرزالعمل د یوه عارض په توګه، تاسي مکلف یاست څو د خپل خوندیتوب عریضې په ارزونه او ستاسي د عریضې اړوند هرې استیناف غوښتنې پرېکړې په هکله همکاري وکړئ. څومره چې رممکن وي تاسي باید ټول هغه معلومات وړاندي کړئ چې ورته اړتیا ده څو ستاسي د عریضې رښتیاوالی ثابت شي. که تاسي همکاري ونکړئ کېدای شي ستاسي د خوندیتوب عریضې پایلو باندې اغیز وکړي.

## طرزالعملي مکلفیتونه

د همکارۍ یوې برخې په مکلفیتونو کې دا لاندې شامل دي:

أ. پرته لدې چې د وزیر موافقه واخیستل شي، د واحد طرزالعمل په ترڅ کې له آیرلنډ څخه نه وتل او نه هم د وتلو هڅه کول؛

ب. هرڅومره ر چې کېدای شي وزیر ته د خپل آدرس او په آدرس کې له هر بدلون څخه اطلاع ورکول؛

ج. له هغو راپورونو څخه اطاعت کول چې تاسي یې لاسته راوړئ، لکه په آیرلنډ کې په یوه ځانګړي موقیعت یا ځای کې د اوسیدلو یا پاته کېدلو اړتیا او/یا د کډوالو کارکوونکي ته په ځانګړو وختونو کې راپور ورکول، یا د ګاردا (پولیس) ځانګړي پولیس حوزې ته راپور ورکول؛

د. د نړیوال خوندیتوب دفتر یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې سره د اړیکو هر مکتوب کې د لنډمهاله استوګنې کارت کې خپل نوم، آدرس، تابعیت او د تذکرې شمیره لیکل؛

ه. د نړیوال خوندیتوب عریضې په هکله رښتیا ویل او د خپلې عریضې ارزونې لپاره له اړوندو معلوماتو سره د خپلو پوښتنو لست ډکول؛

و. د ټولو هغو اسنادونو چې تاسي ته درکول کیږي یا تاسي د نړیوال خوندیتوب دفتر او د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې ته ورکوئ یا یې هغوی درکوي، نقل ساتل؛

**کله چې د نړیوال خوندیتوب لپاره زما عریضه ارزول کیږي، آیا زه کولای شم پدغه وخت کې کار وکړم؟**

په ترڅ کې د نړیوال خوندیتوب له دفتر څخه د خپل خوندیتوب عریضې پریکړه السته نه یي تاسې کوالی شئ د کار اجازې لپاره عریضه ورکړئ. د ال که تاسې د ۶ میاشتو راوړي، او که ستاسې خپل عملونه د ځنډ سبب نه یي شوي،
نورو معلوماتو لپاره دا ویبپاڼه وګورئ:www.inis.gov.ie

## 4 نور اړوند معلومات

### لمړیتوب

کېدای شي ځینو عریضو ته د نړیوال خوندیتوب دفتر لخوا لمړیتوب ورکړ شي. دا پدې مانا چې دغه ډول عریضو ته به د مرکې لپاره رترره وخت ورکړل شي. دا پدې مانا نده چې پداسي قضیو کې به له وړاندی پرېکړه کیږي او یا د دې اضافي تضمین ورکړي چې د داسي قضیو په هکله به کله پرېکړه کیږي.

د ځینو ځانګړو دلیلونو لپاره کېدای شي ستاسي قضیې ته پشمول د دې چې که ستاسي عمر له 70 کلونو څخه زیات وي (او د یوې کورنۍ غړي نیاست)، یوازې کوچنی یاست، د سختې ناروغۍ دلیلونو لپاره یا ستاسي د هېواد تابعیت (سوریه، ایریتریا، عراق، افغانستان، ایران، لیبیا، او سومالیا) له کبله لومړیتوب ورکړل شي.

د نړیوال خوندیتوب دفتر د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ سره په مشوره د ځانګړو درجو عریضو لومړیتوبونو په هکله یوه خبرتیا خپره کړده، چې پدغه ویبپاڼه کې شتون لري: http://www.ipo.gov.ie/en/ipo/pages/prioritisation_applicants

### ایستنه

وړاندې تردې چې د نړیوال خوندیتوب دفتر یا د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه ستاسي د عریضې په هکله راپور چمتو کړي تاسي کولای شئ په هر وخت کې د خوندیتوب خپله عریضه بېرته واخلئ. دا مهمه ده څو د خپلې عریضې تر بېرته اخېستلو وړاندې د حقوقي مشورې په لټه کې شئ څو د ځان او د خپلې کورنۍ غړو لپاره د دې ډول بېرته اخېستلو پایلو په هکله په بشپړه توګه پوه شئ. کله چې عریضه بېرته واخیستل شي، ستاسي د عریضې ارزونه به بشپړه شي او وزیر به ستاسي د کډوالۍ درېځ یا د خوندیتوب درېځ وړاندې کول رد کړي.

### پخپله خوښه بېرته ستنیدنه

تاسي دا اختیار لرئ چې د واحد طرزالعمل په هر پړاو کې خپل اصلي هېواد/یا د استوګنې هېواد ته پخپله خوښه بېرته ستانه شئ. که تاسې پرېکړه وکړئ چې په خپله خوښه بېرته ستانه شئ، د کډوالو لپاره نړیوال سازمان (IOM) کېدای شي ستاسې د سفر لپاره له تاسې سره مالي مرسته وکړي او مشوره درکړي. پخپله خوښه د بېرته ستنیدنې اداره INIS هم کېدای شي له تاسې سره مرسته وکړي.

د طرزالعمل په ترڅ کې پخپله خوښه له بېرته ستنیدنې څخه د ګټې اخیستنې لپاره، تاسې باید د نړیوال خوندیتوب دفتر څخه د نړیوال خوندیتوب لپاره خپله عریضه بېرته واخلئ او د نړیوال خوندیتوب د درخواستونو محکمې څخه خپله استیناف غوښتنه بېرته واخلئ. که په آیرلنډ کې ستاسې نړیوال خوندیتوب رد شي او تاسې ته د پاتې کېدواجازه ورانديږ نشي، وزیر به هم د اجراتو په پای کې تاسې پخپله خوښه د بېرته ستنېدنې له امکاناتو خبر کړي څو خپل اصلي هېواد/یا د استوګنې هېواد ته بېرته ستانه شئ. د نورو معلوماتو لپاره دا وګورئ:
https://www.youtube.com/watch?v=eX7GarY2rUE

## د اروپايي ټولنې د دبلن مقرره

د اروپايي ټولنې د دبلن مقرره یوه حقوقي وسیله ده او پدې اړه پرېکړه کوي چې کوم غړی هېواد د نړیوال خوندیتوب لپاره د عریضې ارزونې مسؤلیت لري. کله چې تاسې د نړیوال خوندیتوب لپاره عریضه ورکړئ، د نړیوال خوندیتوب دفتر به تاسې ته د اروپايي ټولنې د دبلن مقررې په هکله یو لارښود درکړي. دا مهمه ده چې تاسې دا معلومات په ډېرې پاملرنې سره ولولئ، ځکه چې کېدای شي داسې دلیلونه وي چې ولې ستاسې د عریضې مسؤلیت کوم بل غړی هېواد لري، پشمول د دې چې کېدای شي ستاسې د کورنۍ غړي د اروپايي ټولنې په بل هېواد کې شتون ولري. که ستاسې عریضه د دبلن مقررې تر لاندې راځي، تاسې ته به د دبلن طرزالعمل او د خپلې انفرادي قضیې لپاره د دې مقررې د پایلو په هکله یو بل لارښود درکړل شي.

## د نړیوال خوندیتوب لپاره بله عریضه

که ستاسې د کډوالۍ دریځ او د فرعي خوندیتوب دریځ رد شوی وي او ستاسې عریضه تړل شوې وي، په آیرلنډ کې د وزیر موافقې ته اړتیا ده که تاسې بیا هم غواړئ چې د نړیوال خوندیتوب لپاره دویمه او نورې عریضې وړاندې کړئ. تاسې کولای شئ د بلې عریضې موافقې اخیستلو لپاره وزیر ته په تحریري بڼه عریضه وړاندې کړئ. هغه حقیقتونه چې په پام کې نیول کیږي دا دي:

أ. د تیرې عریضې له وخته نوي معلومات شتون لري چې تر ډېرې کچې دا امکان شتون لري چې تاسې د نړیوال خوندیتوب مستحق شئ، او تاسې نشو کولای دا معلومات د خپلې تیرې عریضې په لومړني پړاو کې وړاندې کړئ؛

ب. که ستاسې تیره عریضه بېرته اخیستل شوې او یا داسې ګڼل شوې چې بېرته اخیستل شوې، یاني ستاسې ګناه نه وه، یا تاسې نشو کولای خپله تیره عریضه تعقیب کړئ.

که د نړیوال خوندیتوب له بلې عریضې سره وزیر موافقه ونکړي، تاسې ته به یوه منطقي پرېکړه وړاندې شي، چې بیا تاسې کولای شئ د استیناف غوښتنې لپاره د نړیوال خوندیتوب د درخواستونو محکمې ته مراجعه وکړئ.

## عدلي ارزونه

عدلي ارزونه د سترې محکمې لپاره یوه لار ده څو اداري بنسټونه او محکمې، پشمول د نړیوال خوندیتوب دفتر او د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه مدیریت کړي، او دا وګوري چې دا اداري د قوانینو په اساس پرېکړې ترسره کوي. عدلي ارزونه یوه استیناف غوښتنه نده. عدلي ارزونه یوه عارض ته له خپل حقوقي وکیل سره په مشوره اجازه ورکوي څو د نړیوال خوندیتوب دفتر او/یا د نړیوال خوندیتوب د درخواستونو محکمې پرېکړه، د آیرلنډ د اداري قانون په اساس د سترې محکمې لخوا په عدلي توګه وارزول شي، د بیلګې په توګه، که د عریضې د پرېکړې اجراتو کې د قانون په هکله کومه تیروتنه شوې وي. ستاسې حقوقي وکیل به تاسې ته مشوره درکړي چې آیا دا موضوع ستاسې د عریضې پورې تړاو لري. دا مهمه ده چې په یاد وساتئ چې هغه محکمه چې په عدلي ارزونې کار کوي نشي کولای د نړیوال خوندیتوب په هکله د مثبتې پرېکړې سپارښتنه وکړي، خو کولای شي چې د نړیوال خوندیتوب دفتر او د نړیوال خوندیتوب د د استیناف له محکمې غوښتنه وکړي څو د محکمې د حقوقي موندنو په اساس نوې پرېکړه وکړي. کېدای شي د عدلیې او مساوات وزیر په وړاندې هم د عدلي ارزونې اجراتو غوښتنه وشي. مهرباني وکړئ پدې اړه چې آیا کېدای شي ستاسې په قضیه کې دا اختیارونه په پام کې ونیول شي، له خپل حقوقي وکیل سره مشوره وکړئ.

## توقیف

په آیرلنډ کې عموماً د خوندیتوب طرزالعمل په ترڅ کې عارضین نه توقیف کیږي. مګر، کېدای شي په ځینو ځانګړو حالتونو کې یو عارض د کډوالو کارکوونکي یا د ګاردا سیوشانا (پولیس) غړي لخوا له حکم څخه پرته ونیول شي، که هغوی په مناسبه توګه ګمان وکړي چې عارض:

I. په هېواد کې عامه امنیت یا عامه نظم ته خطر پېښوي؛

II. له آیرلنډ څخه دباندې یې غیرسیاسي خطرناکه جرم ترسره کړی؛

III. په مناسبه توګه یې هڅه نده کړې چې خپل هویت تثبیت کړي؛

IV. غواړي له آیرلنډ څخه ووځي او له قانوني اجازې پرته بل هېواد ته دننه شي؛

V. داسي عمل يې کړی او یا غواړي داسي عمل ترسره کړي چې په هېواد کې به هغه سیستم ته پام نه کوي چې د خلکو لپاره نړیوال خوندیتوب وړاندې کوي، یا د سفر عمومي ساحې په هکله د هر ترتیب، یا

VI. له کوم منطقي دلیل پرته، خپله تذکره یا د سفر کولو سند له منځه وړي، یا جعلي، بدل شوی یا عوضي تذکره لري.

که یو عارض تردغو حالتونو لاندې ونیول شي کېدای شي هغه ځای ته یوړل شي او په هغه موقیعتونو کې توقیف شي چې په قانون کې دغې موخې ته ځانګړی شوی. کوچنیان، هر هغه کس ته ویل کیږي چې تر 18 کلو کم عمر لري، د دغه قانون په اساس توقیف کېدلای نشي.

## آیا زه کولای شم کله چې زه د پولیس په توقیف کې یم نړیوال خوندیتوب ته عریضه وړاندې کړم؟

تاسي کولای شئ کله چې تاسي په توقیف کې یاست نړیوال خوندیتوب ته عریضه وړاندې کړئ. تاسي باید د محبس رئیس یا د پولیس په حوزه کې چیرته چې تاسي توقیف یاست پولیس ته رترره اطلاع ورکړئ، که تاسي غواړئ عریضه وړاندې کړئ. که ستاسي د عریضې د ارزونې په وخت کې تاسي په توقیف کې یاست، ستاسي قضیې ته به لومړیتوب ورکړ شي.

## آیا زما توقیف به د محکمې لخوا وارزول شي؟

که تاسي د هغه حالت په اساس چې پورته ورته اشاره شوې توقیف شوي یاست، تاسي به په هغه سیمه کې چیرته چې توقیف شوي یاست رترره د حوزوي محکمې د یوه قاضي په وړاندې راوستل شئ. د حوزوي محکمې قاضي به ستاسي د قضې د انفرادي حالتونو په اساس له توقیف څخه د کار اخیستنې بیا ارزونه وکړي.

# 5 د نړیوال خوندیتوب ګټه اخیستونکي:

### د نړیوال خوندیتوب ګټه اخیستونکي په توګه زما حقونه

که تاسي ته د کډوالۍ درېځ یا د فرعي خوندیتوب اطلاعیه درکړ شي، تاسي به دا لاندې حقونه ولرئ:

- تر درېو کلونو پورې په آیرلنډ کې د ځانګړې مودې لپاره د استوګنې اجازه؛
- د کار کولو لټون او کار کول، په کوم کاروبار، سوداګرۍ، یا مسلک کې بوختیا؛
- د آیرلنډ د نورو اتباعو په توګه تعلیم او روزنې ته لاسرسی؛
- د آیرلنډ د نورو اتباعو په توګه ورته روغتیایي پاملرنې او ټولنیزې مرستې لاسته راوړل؛
- تاسي به د آیرلنډ د اتباعو به څیر له آیرلنډ څخه او بیرته آیرلنډ ته د سفر کولو ورته حقونه ولرئ (مګر، په یاد وساتئ چې تاسي به بل هېواد ته د تلو لپاره بیاهم ویزې ته اړتیا ولرئ)؛
- وروسته لدې چې مو د یوه کال په ترځ کې د کډوالۍ درېځ یا فرعي خوندیتوب لاسته راوړ، آیرلنډ کې ستاسي سره د استوګنې لپاره د خپلې کورنۍ د ځینو غړو د راتلو لپاره وزیر ته عریضه وړاندې کړئ.

## زه څرنګه کولای شم د سفر کولو سند ته عریضه وکړم؟

تاسي کولای شئ وزیر ته د سفر کولو سند لاسته راوړلو لپاره د عریضې فورمې ډکولو سره عریضه وکړئ. د €80 یورو فیس تادیې ته اړتیا ده. وزیر به د سفر کولو سند صادر نکړي که عریضه کوونکي کس د عریضې د اجراتو لپاره د اړتیا وړ معلومات نه یې وړاندې کړي، که عریضه کوونکی کس فرعي خوندیتوب لري او کولای شي ملي پاسپورت لاسته راوړي یا که وزیر دا په پام کې ونیسي چې د سفر سند صادرول به د ملي امنیت، عامه امنیت، عامه روغتیا یا عامه نظم په ګټه نه وي یا د عامه تلنلارې په ضد وي.

## زه د پاتې کېدواجازه لرم. زه کولای شم د سفر کولو سند غوښتنه وکړم؟

که تاسي ته د کډوالۍ یا د فرعي خوندیتوب درېځ درکړ شوی ندی مګر په آیرلنډ کې د پاتې کېدواجازه درکړ شوې، تاسي باید د خپل هېواد په سفارت کې پاسپورت ته عریضه وړاندې کړئ. په ځینو ځانګړو قضیو کې، هغو کسانو ته چې د پاتې کېدواجازه ورکړ شوې او دا کسان پاسپورت نلري، کېدای شي دغو کسانو ته به د عدلیې او مساواتو وزیر لخوا د سفر کولو بدیل سند ورکړ شي.

د کډوالو او فرعي خونديتوب لاسته راوړونکو حقونه تر ډېرې کچې ورته دي، خو د کډوال په توګه تاسي د کډوال سفر کولو سند مستحق یاست. د فرعي خونديتوب لاسته راوړونکی که له خپل اصلي هېواد څخه ملي پاسپورټ لاسته راوړلی نشي، دغه کس به له INIS څخه د سفر کولو سند لاسته راوړي. د ملګرو ملتونو د 1951 د کډوالو د کنوانسیون او د کنوانسیون طرزالعمل په اساس د کډوالی دریځ هم په نړیواله کچه پېژندل شوی دریځ دی. کډوال کولای شي له دريو کلونو وروسته د آيرلنډ تابعيت ته عريضه ورکړي، خو د فرعي خونديتوب لاسته راوړونکی باید پنځه کلونو په تمه اوسي.

که ستاسي د کډوالی دریځ او فرعي خونديتوب موقعیت رد شي، خو د پاتې کېدواجازه درکړ شي، دغه اجازه به د 2004 د کډوالی قانون د 4 برخې په اساس وي. کېدای شي ورکړ شوې اجازه د ځانګړو حالتونو په اساس وي. پدغو کې د هغه وخت موده شامله ده چې اجازه ورکړ شوې او دا چې آیا کولای شي په هېواد کې کار وکړي، سوداګري وکړي یا په کوم مسلک کې بوخت شي. کله چې د پاتې کېدود اجازې وخت ختمیږي، کېدای شي بېرته نوې شي، خو په اجازه کې د وخت موده او حالتونه کېدای شي په هر وخت کې د بیاکتنې وړ وي.

هغه کس ته چې د پاتې کېدواجازه ورکړ شوې د نړیوال خونديتوب قانون په اساس د کورنۍ د بېرته یوځای کېدنې حق نلري. کېدای شي دغه کس د کډوالی د عادي طرزالعمل له لارې د کورنۍ بېرته یوځای کېدنې ته عريضه وړاندې کړي، مګر له جلا معيار او غور څخه کار اخیستل کیږي.

### د کورنۍ بېرته یوځای کېدنه

که تاسي ته د کډوالی دریځ یا د فرعي خونديتوب اطلاعیه درکړ شوې، کېدای شي تاسي د کورنۍ د ځینو غړو اجازې لپاره د دغې اطلاعیې د 12 میاشتو په ترڅ کې وزیر ته عريضه وړاندې کړئ، څو هغوی یا آیرلنډ ته راشي او له تاسي سره استوګن شي، او که هغوی له پخوا په آیرلنډ کې وي، څو له تاسي سره استوګن شي او پاته شي.

له تحقیق او د وزیر له پرېکړې وروسته، کېدای شي د کورنۍ یوه غړي ته اجازه ورکړ شي څو د ځانګړې مودې لپاره چې تر 1 کال کم نه وي په آیرلنډ کې پاته شي، او د نوي کېدلو په حالت کې، له 2 کلونو کم نه وي.

**د کورنۍ د بېرته یوځای کېدنې موخو لپاره څوک د کورنۍ غړي په توګه پېژندل کیږي؟**

که تاسي یو بالغ عارض یاست، ستاسي د کورنۍ غړي دا دي (i) ستاسي د ژوند ملګری یا مدني شریک، یانې کله چې تاسي نړیوال خونديتوب ته عريضه ورکړی وه، نکاح یا مدني شراکت قانوني و (ii) ستاسي کوچنی، کله چې تاسي د نړیوال خونديتوب لپاره عريضه ورکړې وه هغوی باید له 18 کلونو کم عمر درلود او مجرد و.

**زه یوزاې کوچنی یم. زما لپاره د کورنۍ بېرته یوځای کېدنې موخو لپاره څوک زما د کورنۍ غړي په توګه پېژندل کیږي؟**

ستاسي مور او پلار او ستاسي ورونه او خویندې، خو هغوی باید تر 18 کلونو کم عمر ولري او مجرد وي. ستاسي کورنۍ له هغه وخته پیژندل کیږي کله چې تاسي د کورنۍ بېرته یوځای کېدنې ته عريضه ورکړې.

## زه څرنګه کولای شم د کورنۍ بېرته یوځای کېدني ته عریضه ورکړم؟
**کله چې تاسي ته د کډوالۍ دریځ یا فرعي خوندیتوب درکړ شي، تاسي کولای شئ د کورنۍ بېرته یوځای کېدنې ته پدغه لاندې آدرس په تحریري توګه عریضه ورکړئ:the Family Reunification Unit, the Irish Naturalisation and Immigration Service, 13/14 Burgh Quay, Dublin 2.**

### د کورنۍ یوځای کېدني لپاره د عریضي طرزالعمل

وروسته لدې چې تاسي د وزیر لخوا د کډوالۍ دریځ یا د فرعي خوندیتوب اطلاعیه لاسته راوړئ، تاسي باید د کورنۍ یوځای کېدني لپاره د 12 میاشتو په ترځ کې خپله عریضه وړاندي کړئ. د بېلګې په توګه، که تاسي ته د 2017 د مارچ په1 د کډوالۍ موقعیت اطلاعیه درکړ شوي، تاسي باید د 2018 د مارچ تر 1 وړاندي د کورنۍ بېرته یوځای کېدني ته عریضه ورکړئ.

تاسي باید په تحریري توګه د کورنۍ بېرته یوځای کېدني اداري، INIS ته عریضه ورکړئ او لاندې معلومات وړاندي کړئ:

- ستاسي نوم، ستاسي د تذکرې شمېره او آدرس؛
- هغه نېټه کله چې تاسي ته د وزیر لخوا د کډوالۍ دریځ یا فرعي خوندیتوب وړاندي شو.
- د کورنۍ هر غړي لپاره: د هغوی نوم، ستاسي سره یې اړیکه، د هغوی د زیږیدني نېټه، تابعیت او اوسنی آدرس.

کېدای شي دا به ګټور وي که تاسي په مکتوبونو کې د خپلې کډوالۍ موقعیت یا فرعي خوندیتوب دریځ نسخه هم وړاندي کړئ. لدې عریضي وروسته به تاسي د کورنۍ بېرته یوځای کېدني له اداري څخه د ډکولو لپاره د پوښتنو لست لاسته راوړئ. پدغه پړاو کې به له تاسي څخه غوښتنه وشي څو د خپلې کورنۍ د غړو د زیږیدني کارت، تذکرې او پاسپورتونه او د پاسپورت دوه نوي رنګه لاسلیک شوي عکسونه وړاندي کړئ. کېدای شي تاسي باید د خپل سفر سند او د خپل اوسني آدرس مستند شواهد هم وړاندي کړئ. دا ستاسي په انفرادي حالتونو پورې اړه لري، که تاسي د خاوند یا مېرمن د کورنۍ بېرته یوځای کېدني په لټه کې یاست کېدای شي تاسي باید نکاح خط یا نور اړوند معلومات یا مستند شواهد وړاندي کړئ.

وروسته لدې چې تاسي د خپلو پوښتنو لست ډک او وړاندي کړئ، د کورنۍ د بېرته یوځای کېدني اداره به ستاسي د عریضي په هکله تحقیق وکړي او تاسي به د پرېکړې یو لیک لاسته راوړئ. که ستاسي د کورنۍ بېرته یوځای کېدنه تایید شوې، تاسي به د پرېکړې په لیک کې اجازه لاسته راوړئ، یاني هغه نېټه چې ستاسي د کورنۍ غړی یا غړي باید هېواد ته راشي او/یا استوګن شي. دا مهمه ده چې تاسي تردغې نېټې وړاندي د هغوی سفر ترتیب کړئ، یاني که ستاسي د کورنۍ غړی یا غړي تردې نېټې وړاندي یا پدې نېټې آیرلنډ ته رانشي، بیا د کورنۍ بېرته یوځای کېدني اجازې قانوني بڼه له منځه ځي.

## زه د کورنۍ یو غړی یم او هغه کس یم چې پدې وروستیو کې مې تاییدي لاسته راوړه څو په آیرلنډ کې د خپلې کورنۍ له غړو سره یوځای شم. زما حقونه څه دي؟

تاسي اجازه لرئ څو آیرلنډ ته راشئ او د یوه کال مودې لپاره پاته شئ، او د بیا نوي کېدلو په حالت کې د دوو کلونو اجازه لرئ. د کورنۍ غړي په توګه، تاسي لکه د خپل ملاتړ کوونکي په توګه ورته حقونه لرئ، په هغه صورت کې که ستاسي د ملاتړ کوونکي نړیوال خوندیتوب قانوني وي او تاسي په هېواد کې استوګن یاست.

# 6 انتقالي احکام

ځینې کسانو به د 2016 دسمبر په 31 د نړیوال خوندیتوب قانون له پیل کېدلو وړاندې د نړیوال خوندیتوب لپاره عریضه ورکړې وي. ځینې ترتیبونه نیول شوي چې د کډوالۍ دریځ او فرعي خوندیتوب لپاره د هغوی عریضې د کډوالو د عریضو کمیشنر اداري (ORAC) او د کډوالو استیناف محکمې (RAT) څخه ځینې استیناف غوښتنې د نړیوال خوندیتوب نوې دفتر ته راوړل شي. دغو عارضینو باید د نړیوال خوندیتوب دفتر څخه انفرادي لیکونه لاسته راوړي وي او د هغوی د عریضو د لیږلو د ترتیبونو په اړه یې توضیحات ورکړي وي.

پدې لاندې چارټ کې د هغو قضیو مهمې کټګورۍ راغلي چې د نړیوال خوندیتوب دفتر ته لیږل شوي. دا مهمه ده چې په یاد وساتئ چې کېن لورې ته چوکاټونه هغو عریضو ته اشاره کوي چې د 2016 دسمبر له 31 څخه وړاندې لیږل شوي. **د نړیوال خوندیتوب دفتر د انتقالي ترتیبونو په یادابنت** کې نور معلومات شتون لري: [http://ipo.gov.ie/en/IPO/Pages/Transitional_Arrangements](http://ipo.gov.ie/en/IPO/Pages/Transitional_Arrangements) که تاسې د خپلې عریضې په هکله نورو معلوماتوته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ له خپل حقوقي وکیل سره مشوره وکړئ.

ما د کډوالو د عریضو کمیشنر اداري ته د 2016 دسمبر تر31 وړاندې عریضه وړاندې کړې او د خپلې قضیې په هکله مې سپارښتنه نده لاسته راوړې.

ستاسې دوسیه به د نړیوال خوندیتوب دفتر ته ولیږل شي څو ستاسې د نړیوال خوندیتوب اړتیاوې وارزول شي. دا پدې مانا چې تاسې به د پوښتنو نوی لست ډک کړئ او د واحد طرزالعمل په ترڅ کې به نوې مرکه وکړئ.

زما د کډوالۍ دریځ عریضه د 2016 دسمبر تر 31 وړاندې د کډوالو استیناف محکمې که د استیناف غوښتنې تر غور لاندې وه، خو ما د محکمې پرېکړه نده لاسته راوړې.

ستاسې دوسیه به یوازې د فرعي خوندیتوب مستحق کېدلو دغور لپاره د نړیوال خوندیتوب اداري ته ولیږل شي. تاسې به یوازې د فرعي خوندیتوب په هکله د پوښتنو نوی لست او مرکه هم ولرئ. که د نړیوال خوندیتوب اداره ستاسې د فرعي خوندیتوب عریضه رد کړي، وزیر به پدې غور وکړي چې آیا تاسې ته د پاتې کېدواجازه درکړ شي. که تاسې د فرعي خوندیتوب ردولو په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ، ستاسې په استیناف غوښتنه کې به د کډوالۍ دریځ شامل وي چې ساتل شوی و، څکه نو دواړه یاني د کډوالۍ دریځ او فرعي خوندیتوب استیناف غوښتنې به یوځای تر غور لاندې ونیول شي.

ما د 2016 دسمبر تر 31 وړاندې د کډوالو عریضو کمیشنر اداري ته د فرعي خوندیتوب لپاره عریضه وړاندې کړې، خو تر اوسه زما د عریضې په هکله تحقیق ندی پیل شوی.

ستاسې دوسیه به یوازې د فرعي خوندیتوب مستحق کېدلو دغور لپاره د نړیوال خوندیتوب اداري ته ولیږل شي. تاسې به یوازې د فرعي خوندیتوب په هکله د پوښتنو نوی لست او مرکه هم ولرئ. د کډوالو عریضو کمیشنر اداري او د کډوالو استیناف محکمې لخوا د کډوالۍ دریځ ردولو سپارښتنه (که اړوند وي) به په خپل ځای پاته شي. که د نړیوال خوندیتوب اداره ستاسې د فرعي خوندیتوب عریضه رد کړي، وزیر به پدې غور وکړي چې آیا تاسې ته د پاتې کېدواجازه درکړ شي. تاسې کولای شئ د نړیوال خوندیتوب دفتر او د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې د فرعي خوندیتوب ردولو په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ.

د فرعي خوندیتوب لپاره زما عریضه د 2016 دسمبر تر 31 وړاندې د کډوالو د استیناف محکمې د په وړاندې د استیناف غوښتنه کې وه. زما عریضې به څه وشي؟

د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه چې د کډوالو استیناف محکمې ځای یې نیولی، یوازې به د فرعي خوندیتوب استیناف غوښتنې په هکله پرېکړه وکړي. تاسي بیا د کډوالو د 1999 قانون د 3 برخې په اساس مستحق یاست چې "د پاتې کېدلو" لپاره د عدلیې او مساواتو وزیر ته عریضه وړاندې کړئ. په ځینو برخو کې د دغې پرېکړې اساس " د پاتې کېدو اجازې" له غور سره چې د 2015 نړیوال خوندیتوب قانون کې راغلې توپیر لري. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ له خپل حقوقي استازي سره خبرې وکړئ.

ما د دبلن مقررې پرېکړې په هکله د کډوالو استیناف محکمې ته د 2016 دسمبر تر 31 وړاندې استیناف غوښتنه کړې وه. زما د عریضې به څه وشي؟

د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمه چې د کډوالو استیناف محکمې ځای یې نیولی، یوازې د استیناف غوښتنې د دبلن مقررې پرېکړې په هکله به پرېکړه وکړي. که ستاسي استیناف غوښتنه بریالۍ وي بیا به ستاسي عریضه د آیرلنډ د عادي طرزالعمل له لارې تر غور لاندې ونیول شي.

# 7 تکراري پوښتنې؟

**پ** نړیوال خوندیتوب څه ته وایي؟

**ځ** نړیوال خوندیتوب د اروپایي ټولنې په قانون کې یو عامه کارول شوې اصطلاح ده چې دواړو د کډوالۍ او فرعي خوندیتوب دریځونو ته کارول کیږي. هغه کس چې په آیرلنډ کې د پناغوښتنې ادعا کوي هغه په خپل اصلي هېواد کې له زورونې یا جدي ضرر څخه د نړیوال خوندیتوب په لټه کې دی.

**پ** کډوال څوک دی؟

**ځ** کډوال هغه څوک دی چې نشي کولای بیرته خپل هېواد ته ستون شي ځکه چې هغوی هلته د نژادي، مذهبي، تابعیت، د ځانګړې ټولنیزې ډلې غړیتوب یا سیاسي نظر دلیلونو له کبله له زورونې څخه ځرګند ډار لري.

د کډوالۍ دریځ د خوندیتوب یوه بڼه ده او هغو کسانو ته ورکول کیږي چې د کډوالۍ تعریف پوره کوي.

پ فرعي خونديتوب څه ته وايي؟

فرعي خونديتوب د کډوالۍ دريځ بشپړونکی دی. دا پدې مانا چې يو کس نشي کولای بېرته خپل اصلي هېواد يا دايمي استوګنځای ته وليږل شي ځکه چې هغوی د جدي زوروني له ريښتني خطر سره مخامخ دي. جدي ضرر دا مانا لري (i) د مرګ جزا يا اعدام؛ (ii) شکنجه يا غيرانساني چلند يا وهل ټکول؛ (iii) د نړيوالې يا کورنۍ وسله والې جګړې له کبله د يوه ملکي کس ژوند ته جدي او انفرادي ګواښ يا يوه کس ته د تبعيضي تاوتريخوالي دليل له کبله ګواښ.

پ د پاتې کېدواجازه څه ته وايي؟

ځ د پاتې کېدواجازه به په هغه صورت کې وارزول شي که معلومه شي يو کس د کډوالۍ دريځ يا فرعي خونديتوب مستحق ندی. پدغه حالت کې وزير پدې غور کوي چې آيا تاسي ته د يوه بل دليل لپاره لکه ستاسي د کورنۍ يا انفرادي حالتونو لپاره په آيرلنډ کې د پاتې کېدواجازه درکړي.

وزير به دا لاندې حقايق په پام کې ونيسي:

أ. له آيرلنډ سره ستاسي د اړيکو بنه، که کومه اړيکه وي؛
ب. بشردوستانه غور؛
ج. ستاسي شخصيت او دواړه په آيرلنډ کې دننه او بل ځای کې چلند، پشمول د کوم جرمي بند؛
د. د ټولو ګټې په پام کې نيول.

کله چې د پاتې کېدواجازې باندې غور کيږي وزير به په اجباري توګه د پنا وړونکو ستنول ممانعت موضوع هم په پام کې ونيسي.

پ په اجباري توګه د پنا وړونکو ستنول ممانعت څه مانا لري؟

ځ د کډوالو اجباري ستنيدنې د مخنيوي نقض اساسي مانا دا ده چې وزير نشي کولای يو کس وباسي يا بېرته هغه سرحد يا ځای ته وليږي چېرته چې د وزير په نظر (i) د دغه کس ژوند به د نژادي، مذهبي، مليتي، د کومې ځانګړې ټولنيزې ډلې غړيتوب يا سياسي نظر له کبله له ګواښ سره مخامخ وي يا (ii) جدي خطر شتون لري چې دغه کس ته به د مرګ جزا ورکړ شي، شکنجه شي يا له هغه سره به غيرانساني چلند وشي يا به ووهل اوويټکول شي.

پ د "پاته کېدلو اجازه" څه ته وايي؟

ځ د پاته کېدلو اجازه هغه طرزالعمل ته اشاره کوي چې د 2015 نړيوال خونديتوب قانون تر نافذ کېدلو وړاندې شتون درلود. د 1999 کډوالۍ قانون 3 برخه هغه حقايق لري چې وزير به د پاته کېدلو اجازې پرېکړې لپاره ورباندې غور وکړي. دغه احکام به په هغو کسانو باندې د پلي کېدلو وړ وي چې له هېواده د ايستنې موضوع باندې يې غور کيږي او وړاندې يې د پناغوښتنې لپاره عريضه نه وي وړاندې کړې. د انتقالي قضيو کمه شميره (پورته وګورئ) به د دغو طرزالعملونو له لارې تر غور لاندې ونيول شي.

پ د مور او پلار د نړيوال خونديتوب ادعا پوري اړوند پاته کېدل څه مانا لري؟

ځ دا پدې مانا ده چې هغه کوچنی چې مور او پلار لري، د هغه د نړيوال خونديتوب عريضه به د هغه د پلار او مور د غوښتنې په ارزونې کې شامله شي او کېدای شي پايله به يې هم پدغه پورې اړه ولري. هغه کوچنی چې مور او پلار لري جلا مرکه ورسره نه کيږي او د خونديتوب اړتياوې يې جلا نه ارزول کيږي. د هغه پلار او مور بايد پخپله عريضه کې ټول هغه دليلونه شامل کړي چې ولې کوچنی نړيوال خونديتوب ته اړتيا لري/او يا بايد ورته اجازه ورکړ شي څو په آيرلنډ کې پاتې شي. دا مهمه ده څو په ياد وساتئ چې کوچنيان کېدای شي له پلار او مور څخه اضافي يا د خونديتوب توپير لرونکې اړتياوې ولري.

پ که زه هېواد نلرم، آيا زه کولای شم په آيرلنډ کې نړيوال خونديتوب ته عارض شم؟

ځ هو، که تاسي بې هېواده ياست تاسي کولای شئ په آيرلنډ کې د کډوالۍ موقعيت او فرعي دريځ ته عارض شئ. ستاسي عريضه به بيا ستاسي د استوګنې هيواد ياني له هغه هېواد سره چې تاسي په تير کې هلته ژوند کاوه په تړاو وارزول شي.

پ څه به وشي که زه معيوبوالی او/يا نورې ځانګړې اړتياوې لرم؟

**ځ** تاسي باید دخپلی مرکې لپاره د نړیوال خوندیتوب دفتر ته هرخومره زرچې کېدای شي د معیوبوالي یا نورو ځانګړو اړتیاو اطلاع ورکړئ، څو دغه اداره وکولای شي که ممکن وي دغو اړتیاو ته ځای ورکړي.

**پ** آیا کېدای شي زما د کډوالی دریځ اطلاعیه یا د فرعي خوندیتوب اطلاعیه فسخه شي؟

**ځ** هو، ستاسي د کډوالی دریځ اطلاعیه یا د فرعي خوندیتوب اطلاعیه د ځینو ځانګړو محدودو حالتونو په اساس کېدای شي فسخه شي، لکه که معلومه شي چې تاسي وروسته د نړیوال خوندیتوب عریضې د تحقیق په ترڅ کې ناسم یا غولونکي معلومات ورکړي. که دا کار ترسره شي، تاسي ته به د وزیر لخوا ستاسي د دریځ فسخه کېدلو په اړه د وړاندیز پشمول د دلیلونو په اړه تحریري اطلاعیه در ولیږل شي. تاسي ته به موقع درکړ شي څو په ځواب کې د اطلاعیې له لاسته راوړلو وروسته د 15 کاري ورځو په ترڅ کې وزیر ته ځواب ولیږئ. کله چې وزیر پریکړه وکړه چې ستاسي دریځ فسخه کړي، د 10 کاري ورځو په ترڅ کې، د پریکړې په خلاف په سیمه ایزه محکمه کې د استیناف غوښتنه وکړئ.

**پ** د نړیوال خوندیتوب طرزالعمل په ترڅ کې زه چېرته اوسیدلای شم؟

**ځ** تاسي ته به د هرکلي او یوځای کېدنې اداري لخوا د پناغوښتونکو په استوګنځای کې ځای درکړ شي، خو که تاسي خپلې پیسې لرئ نو تاسي حق لرئ چې په بل ځای کې ژوند وکړئ. د هرکلي سیستم د اروپایي ټولنو د 2018 د S.I.No. 230 (د هرکلي شرایط) د 2018 مقرراتو لخوا اداره کیږي.

## په لمړي ځل د کډوالۍ موقعیت وړاندي کول

**د نړیوال خوندیتوب لپاره عریضه**

د نړیوال خوندیتوب دفتر تحقیق او سپاربښتنه

د کډوالۍ موقعیت سپاربښتنه شوې

وزیر به د کډوالۍ دریځ لپاره اطلاعیه صادره کړي، خو که عارض د هېواد امنیت لپاره خطرنه وي

## په 1 ځل د فرعي خوندیتوب وړاندي کول

**د نړیوال خوندیتوب لپاره عریضه**

د نړیوال خوندیتوب دفتر تحقیق او سپاربښتنه

فرعي خوندیتوب خو د کډوالۍ دریځ سپاربښتنه نده شوې

وزیر به د فرعي خوندیتوب اطلاعیه صادره کړي


د کډوالۍ دریځ لپاره د استیناف غوښتنه یوازې د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې کې کېدای شي

ناکامه استیناف غوښتنه: د فرعي خوندیتوب اطلاعیه قانوني بڼه لري


کامیابه استیناف غوښتنه

وزیر به د کډوالۍ دریځ اطلاعیه صادره کړي، خو که عارض د هېواد امنیت لپاره خطرنه وي. د فرعي خوندیتوب اطلاعیه به خپله قانوني بڼه له لاسه ورکړي

## په لمړي ځل د پاته کېدلو اجازه ورانډي کول



## په لمړي ځل د کډوالۍ دريځ، فرعي خونديتوب او پاته کېدلو اجازې ردول



## ورسته لدې چې مو دغه لاربښود ولوست، آیا تاسي بیا هم د نوي واحد طرزالعمل یا د نړیوال خوندیتوب قانون په اړه پوښتني لرئ؟

تاسي کولای شئ زمونږ له دفتر سره اړیکه ونیسئ او/یا خپل حقوقي وکیل وپوښتئ.

**د نړیوال خوندیتوب اداره د آیرلنډ د تابعیت او کډوالی خدمات**
**(Irish Naturalisation & Immigration Service)**
79-83 Lower Mount Street,
Dublin 2, D02 ND99
ایمیل: +353 1 602 8000
فکس: +353 1 602 8122
تیلفون: ipo@justice.ie
www.ipo.gov.ie

**International Protection Appeals Tribunal**
6/7 Hanover Street,
Dublin 2, D02 W320
ایمیل: +353 1 474 8400
سیمه ایز تیلیفون: 1890 210 458
فکس: +353 1 474 8410
تیلفون: info@protectionappeals.ie
www.protectionappeals.ie

**د آیرلنډ د تابعیت او کډوالی خدمات**
**(Irish Naturalisation & Immigration Service)**
Department of Justice &
Equality 13-14 Burgh Quay,
Dublin 2, D02 XK70
ایمیل: +353 1 616 7700
سیمه ایز تیلیفون: 1890 551 500
www.inis.gov.ie

**د هرکلي او یوځای کېدنې اداره**
**(Reception and Integration Agency)**
P.O. Box 11487, Dublin 2
ایمیل: +353 1 418 3200
فکس: +353 1 418 3271
تیلفون: RIA_Inbox@justice.ie
www.ria.gov.ie

**نړیوال سازمان د کډوالو لپاره**
**(International Organisation for Migration)**
116 Lower Baggot Street,
Dublin 2, D02 R252
ایمیل: +353 1 676 0655
وړیا تیلیفون: 1800 406 406
تیلفون: iomdublin@iom.int
www.ireland.iom.int

**په دبلن کې د حقوقي مرستې اداره**
**(Legal Aid Board Dublin)**
48/49 North Brunswick Street,
Georges Lane, Dublin 7
D07 PE0C
ایمیل: +353 1 646 9600
فکس: +353 1 671 0200
تیلفون: lawcentresmithfield@legalaidboard.ie

**د ګالوې حقوقي مرستې اداره**
**(Legal Aid Board Galway)**
9 Francis Street Galway,
H91 NS53
ایمیل: +353 91 561 650
فکس: +353 91 563 825
تیلفون: galwaylawcentre@legalaidboard.ie

**د کورک حقوقي مرستې اداره**
**(Legal Aid Board Cork)**
Popes Quay Law Centre,
North Quay House,
Popes Quay, Shandon,
Cork, T23 HV26
ایمیل: +353 21 4551 686
فکس: +353 21 455 1690
تیلفون: lawcentrecorknorth@legalaidboard.ie

**Team for Separated Children Seeking Asylum, Tusla - Child & Family Agency**
Sir Patrick Dun's Hospital,
Lower Grand Canal Street,
Dublin 2, D02 P667
ایمیل: +353 1 647 7000
فکس: +353 1 647 7008
www.tusla.ie

**د آیرلنډ کډوالو شورا**
**(Irish Refugee Council)**
37 Killarney Street,
Mountjoy, Dublin 1
ایمیل: +353 1 764 854
فکس: +353 1 672 5927
تیلفون: info@irishrefugeecouncil.ie
www.irishrefugeecouncil.ie

**د آیرلنډ د کډوالو ملاتړ اداره**
**(Nasc Ireland)**
Ferry Lane, Dominic Street, Cork
ایمیل: +353 21 450 3462
تیلفون: info@nascireland.org
www.nascireland.org

**د کډوالو حقونو ملاتړ اداره**
**(Doras Luimni)**
Central Buildings 51a,
O' Connell Street,
Limerick, V94 268W
ایمیل: +353 61 310 328
تیلفون: info@dorasluimni.org
www.dorasluimni.org

**د Crosscare Refugee Service**
2 Sackville Place, Dublin 1
ایمیل: +353 1 873 2844
فکس: +353 1 872 7003
تیلفون: refugeeservice@crosscare.ie
www.crosscare.ie

**د کډوالو او پناغوښتونکو ملاتړ اداره**
**(SPIRASI)**
213 North Circular Road,
Phibsborough, Dublin 7
ایمیل: +353 1 838 9664
یا +353 1 868 3504
فکس: +353 1 882 3547
تیلفون: info@spirasi.ie
www.spirasi.ie

**Jesuit Refugee Service Ireland**
The Mews, 20 Upper Gardiner St.
Dublin 1.
ایمیل: +353 1 814 8644
www.jrs.ie

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ**
**(UNHCR)**
102 Pembroke Road,
Ballsbridge, Dublin 4,
Ireland.
ایمیل: + 353 1 6314510
تیلفون: iredu@unhcr.org
www.unhcr.ie

UNHCR
The UN Refugee Agency

www.unhcr.ie